# د غوثِ پاك د
# اِيمان نه ډك بيانونه

03-November-2022



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې کيدونکے

د سُنَّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

03نومبر 2022ء  د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# د غوثِ پاك د اِيمان نه ډك بيانونه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

پيرانِ پير، پير دستګير حُضُور غوثِ اَعظم شيخ عبدُ القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل ژوند يوه اوګړده موده په مجاهدو کښې تيره کړه، کله چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بغداد شريف کښې عِلمِ دين حاصلولو، د هغوئي معمول وو چې د مدرسې سبقونه لوستلو نه پس به د ځنګلونو په لور وَتلو، هلته به ئې سبق يادولو او په عبادتونو کښې به هم مصروف اوسيدلو، د هغه زمانے خبره ده، يوه ورځ حُضُور غوثِ پاك شيخ عبد القادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د يو غار سره نزدې يوه ګټه اوليدله، په هغه ګټه باندې يو درودِ پاك ليکلے شوے وو، ورسره دا هم ليکلے شوي وو چې دا درودِ پاك (کوم چې په ګټه باندې ليکلے شوے دے)، د ده په يو ځل لوستلو د 50 زره درود شريف

ثواب ميلاويږي، حُضُور غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هغه درود شريف اوليكلو او هغه به ئې لوستلو، وروسته يوه ورځ هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته په خوب كښې د خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د هغه درود شريف په باره كښې پوښتنه اوكړه: (چې واقعي د هغه درود شريف په لوستلو د 50 زره دُرود شريف ثواب ميلاويږي؟) سركارِ عالي وقار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: نه، د هغه درود شريف په لوستلو 50 زره نه بلكه د 70 زره درود شريف ثواب ميلاويږي.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د الله پاک د خپل محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمَّت باندې كرم ته اوګورئ! كوم بنده چې يو ځل درود شريف اولولي، د رواياتو مطابق هغه ته 10 نيكئ ميلاؤيږي، 10 ګناهونه ئې معاف كيږي او 10 درجے ئې اوچتيږي.[2] دا كرم څومره عظيم دے چې يو ځل د درود شريف په لوستلو دومره ثواب ميلاويږي، بيا په دې باندې نور كرم دا دے چې ډير داسې درودونه مبارک دي، كوم چې صِرف يو ځل اولولې نو صِرف د يو درود شريف نه بلكه د زرګونو درود مباركو ثواب ميلاويږي، په كتابونو كښې داسې ډير درودونه مبارک ليكلے شوي دي، د



1…سعادة الدارين، صفحه:256۔

2…سنن الكبرى امام نسائى، كتاب صفة الصلاة، جلد:1، صفحه:385، حديث:1220۔

www.dawateislami.net

كومو په لوستلو چې د يو لاكھ درود شريف ثواب ميلاويږي او حُضُور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې په كَتِه باندې ليكلے شوے كوم درود شريف اوليدلو، خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب كښې تشريف راوړلو او اوئې وئيل چې د ده په يو ځل لوستلو د 70 زره درود شريف ثواب ميلاويږي. سُبْحٰنَ الله!

كاش! چې مونږه د دغه كرم قدر اوكړو. زمونږه پير حُضور غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: اے د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّته! د الله پاک شكر ادا كړئ چې مخكښينو اُمَّتونو به خومره عمل كولو، الله پاک د هغوئي په نسبت ستاسو نه په لږ عمل باندې راضي كيږي. نور فرمائي: جُمات لازمي اونيسئ او په نبئ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ډير زيات درود شريف لولئ![1]

پڑھتا رہوں کثرت سے درود ان پہ سدا میں — اور ذِکر کا بھی شوق پئے غوث و رضا دے

الله پاک دې مونږ له د زيات دُرُود شريف لوستلو توفيق راكړي! په شجريه عاليه قادريه رضويه عطّاريه كښې درودِ غوثيه ليكلے شوے دے، راځئ! د بركت حاصلولو د پاره ئې لولو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ مَّعْدِنِ الْجُوْدِ وَالْكَرَمِ وَآلِهٖ وَبَارِكْ وَسَلِّمْ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1...الفتح الربانی، المجلس الثانی، صفحه:2524بتقدم وتآخر۔

www.dawateislami.net

## د بيان اوريدلو نيتونه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د هر نيك او جائز كار نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونو كولو عادت جوړ كړئ چې هغه نِيَّت بنده جنَّت ته داخلوي. د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه اوكړئ: مَثَلاً نِيَّت اوكړئ چې ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ د علمِ دِين زده كولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ چې خومره كيدے شو د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه كښينم ❀ د خپلے اصلاح د پاره به پوره بيان اورم ❀ څه چې واورم بخپله به پرې د عمل كولو او نورو د رَسَولو كوشش كووم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## بَس د يوې هفتې مشقت پاتې دے...!!

حضرت احمد بن مُبَارك رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه بيانوي چې يو عجمي (يعني غير عربي) كَس د چا نوم چې اُبَيّ وو، دا د پيران پير، پير دستگير حُضُورِ غوثِ پاك شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه شاگرد وو، د دې كَس ذِهن ډير كمزورے وو، په ډيره خوارئ او كوشش د پوهه كولو باوجود به په مسئله نه پوهيدلو خو د حُضُور غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه كمال شفقت، مهرباني او د دين



1…مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

www.dawateislami.net

طالبِ علم سره مينه وه چې هغوئي به ډير په **محنت** هغه ته سبق ښودلو، هغه به ئې پوهه كولو چې نه به ورتللو نو بيا بيا به ئې پوهه كولو.

احمد بن مبارك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې يوه ورځ حُضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل هغه شاګرد ته ډير په **محنت** سره سبق ښودلو، په دغه وخت اِبنِ سمحل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم هلته راغے، كله چې ابنِ سمحل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوكتل چې غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه طالب علم ته په ديني سبق ښودلو كښې ډير د **محنت** او مشقت نه كار اخلي نو حيران شو، كله چې هغه طالبِ علم سبق اولوستلو او لاړو نو اِبنِ سمحل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرض اوكړو: چې زه ډير حيران يم چې ته د يو كمزوري ذِهن والا ته په سبق ښودلو كښې د دومره مشقت نه كار اخلې. په دې باندې غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: **د ده سره زما د محنت او مشقت ورځې د يوې هفتې نه هم كمې پاتې دي، يوه هفته به لا هم نه وي تيره چې دا به د دُنيا نه رُخصت شي.**

اِبنِ سمحل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې څنګه حُضور غوثِ پاك شيخ عبدُالقادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائيلي وو، بالكل هم هغه شان اوشو، د هفتې آخِري ورځ وه هغه طالبِ عِلم وفات شو.[1]

| | |
|---|---|
| مرتبہ یُوں ترا خالق نے بڑھایا یاغوث! | اولیا کا تجھے سلطان بنایا یاغوث! |
| میں نکما تو کسی کام کے قابِل ہی نہ تھا | مجھ سے بے کار کو تم نے ہی نبھایا یاغوث! |

خوږو او **محترمو** اسلامي ورونړو! د سيرتِ غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ايمان



1…قلائد الجواہر ، صفحه:37 بتغير قليل۔

www.dawateislami.net

نه په ډکه دي واقعه کښې د زده کولو د پاره ډير مدني ګلونه دي:

## (1) اوليائے کرامو ته هم عِلمِ غيب ورکولے شي

ورومبے **مدني ګل** خو دا ميلاؤ شو چې اوليائے کرامو ته هم د الله پاک په عطا سره د راتلونکو خبرو پته وي، هغوئي ته هم عِلمِ غيب ورکولے شي.

په سيپاره29، سورۀ جِنّ، آيت: 26-27 کښې الله پاک فرمائي:

عٰلِمُ الْغَیْبِ فَلَا یُظْهِرُ عَلٰی غَیْبِهٖۤ اَحَدًا ﴿۲۶﴾ اِلَّا مَنِ ارْتَضٰی مِنْ رَّسُوْلٍ

(پارہ:29،سورۀ جن:26، 27)

[مفهوم] ترجمۀ کَنز الايمان: په غيبو پوهيدونکے خو په خپل غيب باندې ځوک نه مسلط کوي سِوا د خپلې خوښې د رسولانو نه.

په دې آيت مبارک کښې خو دومره بالکل صفا او واضحه اوفرمائيلے شو چې الله پاک د خپلې خوښې رسولانو ته عِلمِ غيب عطا کوي. اَئِمَّۀ کرام د دې آيت مبارک لاندې فرمائي چې: عِلمِ غيب په 2 قِسمه دے: (1) يو خاص عِلمِ غيب: دا صرف انبيائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام ته عطا کولے شي او (2) دويم هغه عِلمِ غيب کوم چې د رسولانو سره خاص نه دے بلکه الله پاک د انبيائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام په واسطه يا د اِلهام په ذريعه د اوليائے کرامو په زړه کښې د غيبو خبرې اچوي.[1]

په بهارِ شريعت کښې دي: انبيائے کرام عَلَیْهِمُ السَّلَام د غيبو خبر ورکولو



1…شرح مقاصد، المقصد السادس، الفصل الاول، المبحث الثامن: الولی، جلد:3، صفحه330329.

www.dawateislami.net

د پاره راځي چې جنّت، دوزخ، حَشَر نشر، عذاب، ثواب (دا ټولې خبرې) غيب نه دي نو نور څه دي؟ د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام منصب هم دا دے چې هغوئي هغه خبرې اووائي کومو ته چې عقل او حوّاس (يعني سترګې، غوږونه وغيره) نه رَسي او د دې نوم غيب دے. اولیائے کرامو ته هم عِلمِ غيب عطا کيږي خو د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام په واسطے سره.[1]

## د اولیائے کرامو د کراماتو د نظر کمال

په بُخاري شريف کښې حديثِ قُدسي دے، په هغه (حديث) کښې الله پاک د اولیائے کرامو شان بيان کړے دے، په هغه حديثِ قُدسي کښې دا هم دي چې الله پاک فرمائي: کله چې زه د خپل يو بنده سره محبت کووم نو كُنْتُ بَصَرَهُ الَّذِىْ يُبْصِرُ بِهٖ زه د هغه سترګې جوړې شم، په کومو چې هغه ويني.[2]

مطلب دا دے چې کله بنده د الله پاک سره محبت کوي او الله پاک هغه خپل محبوب جوړ کړي، نو بيا هغه بنده د فَنَا فِـي اللّٰه درجے ته اورَسي، اوس د هغه په اندامونو کښې خُدائي (يعني د الله پاک ورکړے شوي خاص) طاقتونه کار کوي[3] او په دغه اندامونو کښې يو سترګې هم دي، په ظاهره د هغوئي سترګې د عامو خلقو د سترګو په شان وي خو هغوئي د رَبِّ کريم په



1…بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:46، حصه:1بتغير قليل۔
2…بخاری، کتاب الرقاق، باب التواضع، صفحه:1597، حديث:6502ملتقطاً۔
3…مرآة المناجيح، جلد:3، صفحه:361.

نُور سره ليدل کوي. لږه اندازه اولګوئ! زمونږ په شان د عامو خلقو د سترګو څومره کمال دے، مونږه چې سترګې راپورته کړو نو زمونږه نظر په يوه لحظه کښې آسمان ته رسي نو غور اوکړئ! د الله پاک محبوب بندګان، د هغه اوليائے کامِلِين کوم چې د سترګو په ګاڼو نه بلکه د رَبّ په ورکړے شوي نُور سره، د الله پاک په عطا کړے شوي طاقت سره ليدل کوي، چې کله هغوئي نظر اوچت کړي نو د هغوئي نظر به تر کوم ځائے پورې رَسي؟ زمونږه نظر د سترګو په رَپ کښې آسمان ته رَسي نو يقيناً کوم چې د نُورِ خُدا سره، د رَبِّ کريم په عطا کړے شوي خاص طاقت سره ګوري، د هغوئي نظر به صِرف تر آسمانه پورې نه رَسي بلکه د آسمان نه بره د لوحِ محفوظ پورې هم رَسي. د تِرمذي شريف حديثِ پاک دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِتَّقُوْا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَاِنَّهٗ يَنْظُرُ بِنُوْرِ اللّٰه د مؤمن د فراست (يعني د يو کَس د شکل ليدو سره د هغه د سيرت معلومولو د صلاحيت) نه ځان بچ ساتئ ځکه چې بندهٔ مؤمن د الله پاک په نُور سره ويني.[1]

ادھر بھی نِگاہِ کرم غوثِ اعظم
کرو دُور رَنج و اَلَم غوثِ اعظم

ہے گردن میں تیری غُلامی کا پٹہ
تجھی سے ہے میرا بھرم غوثِ اعظم

تراہوں میں تیرا، مرے اس کہے کا
سرِ حشر رکھنا بھرم غوثِ اعظم

بهر حال اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم ته هم عِلمِ غيب ورکولے شي،



1…ترمذی، کتاب تفسیر القرآن، باب ومن سورۃ الحجر، صفحہ:723، حدیث:3127۔

حُضور غوثِ پاك شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته هم عِلمِ غيب عطا کړے شوے وو، ځکه خو هغوئي ته يوه هفته مخکښې پته وه چې زمونږه شاګرد به يوه هفته پس د دُنيا نه ځي.

بندہ قادر کا بھی قادر بھی ہے عبدالقادر
سرِّ باطن بھی ہے ظاہر بھی ہے عبدالقادر
مفتیٔ شرع بھی ہے، قاضیٔ ملت بھی ہے
علمِ اَسْرار سے ماہر بھی ہے عبدالقادر
ذی تَصَرُّف بھی ہے ماذون بھی مختار بھی ہے
کارِ عالم کا مدبّر بھی ہے عبدالقادر[1]

**وضاحت:** زمونږه غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عبدُ القادِر دے يعني د قدرتونو والا رَبِّ کريم بنده دے، الله پاک هغوئي ته قدرت عطا کړے دے، هغوئي د ظاهر او باطِن رازدار دے، د شريعت مفتي هم دے، د مِلَّت قاضِي هم دے، د باطني عُلُومو ماهِر هم دے، الله پاک هغوئي ته اختيارات عطا کړي دي، هغوئي ته د زمانے د تَدبِير اجازت هم عطا کړے شوے دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (2): د اُمَّت د اِصلاح دَرد

په دويم نمبر باندې په دې واقعه کښې غور اوکړئ! د حُضُور غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په زړه کښې د اُمّت خير خواهئ او د اِصلاح څنګه جذبه وه...!! د هغوئي د شاګرد ذهن ډير کمزورے وو، اَوَّل خو دا چې دلته د بعضې استاذانو دا رَويه وي چې د کمزوري ذهن والا شاګرد ته ستغې سپورې وائي،



1…حدائقِ بخشش، صفحه:69ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

وهي ئې، رَټي ئې بلکه بعضې وخت داسې هم وائي چې لا ړ شه! کار مار کوه! **لوستل ستا د وَس خبره نه ده.**

خو قربان شم! حُضُور غوثِ پاك شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل د کمزوري ذهن شاګرد د مدرسې نه نه اوباسي، هغوئي ته پته ده چې که دا اولولي نو څه لوئے عالِم ترې نه نه جوړيږي، د ده په ذريعه به عِلمِ دين نه خوريږي بلکه دا خو د عالِمِ دين جوړيدو نه مخکښې د دُنيا نه رخصتيږي، د دې باوجود هغوئي ورسره خواري کوي، سخته تيروي او هغه ته سبق زده کوي چې دا د عِلمِ دين سره پيوست وي، مدرسې ته راځي چې د علمِ دين کوم فضائل دي هغه د نورو کارونو نه [ډير اعلٰي] دي.

منہ لگاتا نہیں دُنیا میں جسے کوئی بھی
بالیقیں اس کے طرفدار ہیں غوثِ اعظم

کھوٹے سکّے جہاں چل جاتے ہیں وہ ہے بغداد
واں نِکّموں کے خریدار ہیں غوثِ اعظم

ہو کرم! حُسنِ عمل آہ! نہیں ہے کوئی
نہ وظائف ہیں نہ اذکار ہیں غوثِ اعظم[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا د اُمَّت د اِصلاح درد، د خيرخواهۍ جذبه، د نورو د ښيګړې د سوچ عادت کاش! چې زمونږه هم نصيب شي.

## مسلمان قيدي را آزاد کړئ!

په 545 سن هجرئ، د رمضان المُبارک مياشت وه، 7 تاريخ وو، د ګل شريف په شپه د ماسخُتن لمَانځه نه پس حُضور غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادر



1…وسائلِ بخشش، صفحه:561560ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپله مدرسه کښې د **ازميښت** په موضوع بيان اوفرمائيلو، په هغې کښې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: که چرې په تاسو کښې د چا ځوي د کافِرانو سره قيدي وي نو آيا تاسو به د هغه د را آزادولو کوشش نه کوئ؟ يو عارِف (يعني د الله پاک پيژندګلو لرونکے کامِل مسلمان) هم داسې وي، ټول مخلوق د هغوئي د پاره د اَولاد په شان دے او هغوئي د دوئي د نفس او د شيطان د قيد نه د آزادولو کوشش کوي.[1]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے کلام دے...!! په دې کښې خو اَوَّل د استاذانو د پاره دَرس دے، استاذ له پکار دي چې د خپل شاګرد سره نرمي اوکړي، هغه خپل ځوي اوګڼړي او لکه څنګه چې ئې خپل ځوي د کافِر په قيد کښې وي او خطره وي چې کافِران زما ځوي مَړ نه کړي، څومره محنت چې د خپل ځوي د را آزادولو د پاره کوي، داسې محنت، خواري او په شوق سره خپل شاګرد د جهالت د تيَرو نه د راويستلو د پاره هم اوکړي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اسلامي ډيرې تعليمي ادارے دي، په مدرسة المدينه کښې د حفظ او ناظرے تعليم ورکولے شي، په جامعة المدينه کښې درسِ نظامي (يعني عالِم کورس) کولے شي، دغه شان دار المَدينه اسلامک سکول سستم هم دے، د الله پاک فضل دے، د دعوتِ اسلامي په دې ادارو کښې داسې استاذان هم دي کوم چې د تهجدو په



1...الفتح الربانی،المجلس الثالث والخمسون، صفحه:202۔

وخت پاځي او د رَبِّ کريم په بارګاه کښې ژاړي او د خپلو شاګردانو خير غواړي، که يو طالبِ عِلم کمزوري ذهن والا دے، په لوستلو کښې کمزورے دے، د هغه د کاميابئ د پاره دُعاګانے کوي، داسې استاذان هم دي، کومو ته چې د خپل ټول کلاس د طالبِ علمانو نومونه په يادو ياد دي او هغوئي د هر يو نوم اخستلو سره د الله پاک په بارګاه کښې د هغوئي د پاره دعاګانے کوي، طالبِ علمان د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په ذريعه د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه غلامان جوړوي، طالبِ علمانو له ترغيب ورکوي او د 12 ديني کارونو په ذريعه ئې د اُمَّت د اِصلاح په عظيم کار کښې لګوي، الله پاک دې د دغه استاذانو د خپلو شاګردانو سره دا خيرخواهي قبوله کړي.

**ياد ساتئ!** د حُضُورِ غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا فرمان صِرف د استاذانو د پاره نه دے، هغوئي اوفرمائيل: عارِفِ کامِل د ټولو مخلوقاتو (د ټولې دُنيا د خلقو) د نفس او شيطان د لاسونو نه د آزادولو د پاره کوشش کوي.

کاش! چې زمونږه هم دا جذبه نصيب شي، مونږه هم د خپلو مسلمانانو ورونړو خير خواه جوړ شو، مونږه ځپله هم د نفس و شيطان د چالونو نه ځان بچ کړو، ځپله هم نيک کارونه اوکړو، د ګناهونو نه بچ شو او نورو له هم د نيکئ دعوت ورکوو.

| | |
|---|---|
| جو ہیں وَقْف سُنّت کی خدمت کی خاطِر | انہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم |
| جو روزانہ دیتے ہیں نیکی کی دعوت | انہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم |
| سفر قافلے میں جو کرتے ہیں ہر ماہ | انہیں حشر میں بخشوا غوثِ اعظم |

## د غوثِ پاک د مبارک ژوند یو اهم مقصد

په شوالُ المُکَرّم، 545 هجرئ، د جمعې ورځ وه، حُضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خپله مدرسه کښې د خپلو **مسلمانانو ورونړو د خيرخواهئ** په موضوع بيان اوکړو، په بيان کښې هغوئي اوفرمائيل: پاک دے هغه ذات چا چې زما په زړه کښې د مخلوق د خيرخواهئ جذبه واچوله او **د مخلوق خيرخواهي زما د ژوند د ټولو نه لوئے مقصد دے.** بيشکه زه تاسو ته نصيحت کووم، زه په دې باندې ستاسو نه څه جزا نه غوارم، زما خوشحالي په دې کښې ده چې تاسو کامياب شئ! که چرې تاسو هلاک شوئ نو زه به خفه يم.[1]

| | |
|---|---|
| اسیروں کے مشکل کُشا غوثِ اعظم | فقیروں کے حاجت رَوَا غوثِ اعظم |
| گھرا ہے بلاؤں میں بندہ تمہارا | مدد کے لئے آؤ یا غوثِ اعظم |

## غوثِ پاک او د اُمَّت د خيرخواهئ جذبه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د حُضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په زړه کښې د اُمّت د خيرخواهئ جذبه دومره ډيره وه، د



1...الفتح الربانی، المجلس السادس، صفحه:41۔

دې د اندازې لګولو د پاره د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يو ايمان تازه کوونکے فرمان واورئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! د دې فرمان اوريدلو سره به د غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د عاشقانو زړونه د خوشحالئ نه په هوا شي.

په 546 سنِ هجرئ کښې د رَجَبُ الۡمُرَجَّب مياشت وه، د جُمعې په ورځ حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خپله مدرسه کښې د توحيد په موضوع اوکړ د بيان اوفرمائيلو، د بيان په آخِر کښې د خبرو راغونډولو سره ئې اوفرمائيل: اے خلقو! زه ستاسو طرف ته صِرف او صِرف د الله پاک د رضا د پاره مُتَوَجِّه کيږم، زما په زړه کښې ستاسو د پاره داسې رحمدلي او شفقت دے چې که چرې داسې کيدے شوے نو زه به ستاسو په ځائے ستاسو د هر يو قبر ته پخپله **کوزيدم او ستاسو د طرف نه به مې نَکِيرَين ته جواب هم پخپله ورکولو...!!**[1]

| | |
|---|---|
| قلبِ مردہ کو بھی ٹھوکر سے جِلا دو مرشد | تم نے ٹھوکر سے ہے مردوں کو جِلایا غوث! |
| آفتوں میں ہوں گرفتار، مدد کو آؤ | آہ! دُنیا کے غموں نے ہے ستایا غوث! |
| میں جہنّم میں نہ اب جاؤں گا اِنۡ شَآءَ الله | رہنما تم کو جو میں نے ہے بنایا غوث! |

اَللّٰهُ اکبر! اے عاشقانِ رَسُول! غور اوکړئ! دا څومره خيرخواهي ده! دا څومره عظيمه جذبه ده...!! د قبر وړومبئ شپه څومره ډيره سخته شپه وي، مَړے په غمونو کښې راګير وي، د دُنيا د لاسه د تللو غم، د اولاد د جدائې غم، بيا د رُوح د وَتَلو تکليف، د قبر ويره، تياره، يواځې پاتې کيدل، بيا د



1...الفتح الربانی، صفحه:318۔

www.dawateislami.net

دې سره فرښتې د قبر ديوالونه اوشلوي او راشي، د مَړي نه سوالونه كوي.

په دې دُنيا كښې زمونږه ډير دوستان دي، خپلوان دي، څوک خو بَس د خپل مطلبه پورې وي او كوم وفادار چې تول ژوند وفا هم كوي نو صِرف د قبر د غاړې پورې، كيدے شي چې خپل پلار هم د خپل ځوي د پاره داسې خواهش اونكړي چې ځويه...!! زه غوارم چې، ستا په ځائے ستا په قبر كښې، زه څملم او ستا د طرف نه د نَكِيرَين جوابونه وركړم. دا د پيرانو پير، پير دستګير، شهبازِ لامكاني، محبوبِ سبحاني، سيدنا شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے كوم چې فرمائي: اے زما د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتيانو! زما خواهش خو دا دے چې په تاسو كښې څوک هم د قبر د ويرې او يواځي كيدو سره مخامخ نه شي، په تاسو كښې د چا قبر هم د دوزخ كنده جوړه نه شي، زه پخپله ستاسو قبر ته كوز شم او ستاسو د طرف نه د نَكِيرَين د سوالونو جوابونه هم پخپله وركړم چې ستاسو قبر د جنّت د باغونو نه يو باغ جوړ شي او تاسو خلاصے بيامومئ...!!

ايمان اس کا بچ گیا شیطان سے، جو تیرے | ہے سلسلے میں آگیا بغداد والے مرشد[1]

الله پاک دې په حُضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په كروړونو رحمتونه نازِل كړي. كاش! مونږه هم د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه كامِل مُريدان جوړ شو.



1…وسائلِ بخشش، صفحه:546۔

www.dawateislami.net

## د غوثِ پاک رَحْمَةُاللہِعَلَيۡه مختصر تعارُف

شهنشاهِ بغداد، حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيۡه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! ډيره مشهور و معروف شخصيت دے ❁ د هغوئي نوم مبارک: عبد القادِر او کُنيت: ابو محمد دے ❁ مُحۡیُ الدِّین (يعني د دين ژوندي کوونکے) او غَوۡثُ الثَّقَلَين (يعني د پيريانو او انسانانو غوث، مدد کوونکے) د هغوئي مشهور اَلقابات دي.

تُوہے وہ غَوث کہ ہر غوث ہے شیدا تیرا | تُوہے وہ غَیث کہ ہر غیث ہے پیاسا تیرا

**وضاحت:** يعني اے زمونږه خوږه غوثِ پاکه رَحْمَةُاللہِعَلَيۡه ! تاسو هغه غوث ئې چې هر غوث ستاسو عاشِق دے، تاسو د باران هغه نايابه اوبه ئې چې ټکپله باران هم د دې تږے دے.

❁ حُضور غوثِ پاك شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُاللہِعَلَيۡه په 470 هجرئ په جيلان کښې پيدا شو ❁ 91 کاله ئې په دې دُنيا کښې ژوند تير کړو ❁ په 561 هجرئ کښې هغوئي رَحْمَةُاللہِعَلَيۡه د دې دُنيا نه پرده اوفرمائيله [1] ❁ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيۡه د وَليانو وَلي دے، د پيرانو پير دے، پير دستګير، روشن ضمير، سلطانُ الاولياء دے ❁ خنګه چې هغوئي رَحْمَةُاللہِعَلَيۡه په وِلايَت کښې ډيره لويه مرتبه لري ❁ دغه شان په عِلم کښې هم د اوچت مقام مالِک دے ❁ هغوئي رَحْمَةُاللہِعَلَيۡه د خپلې زمانے د ټولو نه لوئے مفتي وو ❁ باقاعده طور به ئې فتوے هم ليکلې ❁ او په مدرسه کښې به ئې سبق هم ښودلو.

323

1…غوث پاک کے حالات، صفحه:15بتغير قليل۔

## غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مُحيُ الدِّين دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د 5 صدئ هجرئ يعني په کوم دور کښې چې حُضور غوثِ پاك شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دُنيا ته تشريف راوړو، هغه وخت مسلمانان په ډيرو ازميښتونو کښې اخته وو، د مسلمانانو په عقيدو او نظريو باندې حملے کيدلے، بدمذهبي خوريدله، د مسلمانانو اَخلاق و کردار زخمي کيدل، کافرانو سازشونه جوړول، په اُندلُس (موجوده سپين) کښې د مسلمانانو حکومت په ختميدو وو، په مِصر کافرانو قبضه کړې وه او په عراق کښې د حَسَن صبّا (نومې مُنافق او ډير چالاکه کَس) تنظيم قتلونه او لوټ مار شروع کړے وو او بغداد شريف کوم چې هغه وخت دار الخلافه وه، د هغه ځائے حالات داسې وو چې وئيلے شوي وو:

| قَارُوْنُ لَوْ حَلَّ بِهَا | جَازَتْ عَلَيْهِ الصَّدَقَةُ |
|---|---|

يعني که د قارُون په شان ډير مالداره کَس هم که چرې په بغداد کښې اوسيدل شروع کړي نو (د هغه ځائے د حالاتو، ګرانئ او خرڅو په وجه به دومره کنګال شي چې) په هغه به هم زکوٰة کيږي.

حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په داسې نازک حالاتو کښې د دين خِدمت اوکړو، د مسلمانانو ډوبه شوې کشتئ راويستلو کښې ئې مرسته اوکړه، د دين اصلي تعليمات ئې ژوندي کړل او د مسلمانانو اخلاق و کردار ئې د قرآن و سُنت او د ديني تعليماتو د نور نه ډک کړل. د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې خدماتو

په وجه هغوئي ته مُحْيُ الدِّيْن (يعني دين ژوندے کوونکے) وئيلے شي.

| | |
|---|---|
| واه کيا مرتبہ اے غوث ہے بالا تيرا | اُونچے اُونچوں کے سَروں سے قدَم اعلیٰ تيرا |
| تُو حُسينی حَسَنی کيوں نہ مُحْيُ الدِّيں ہو | اے خِضَر مَجْمَعِ بَحْرَيْن ہے چشمہ تيرا |

## د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ايمان تازه کوونکي بيانونه

حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دين د خِدمت د پاره د درس او د بيانونو شعبه اختيار کړه، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به په خپله مدرسه کښې باقاعده طور عِلمِ دين ښودلو ❁ حُضور غوثِ پاك شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به په هفته کښې 3 ورځے بيان فرمائيلو ❁ ابراهيم بن سعد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د عالِمَانو والا جامې اغوستلے او په اوچت ځائے (مثلاً په منبر وغيره باندې) به کښناستلو او بيان به ئې کولو ❁ حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: اول اول به زما سره دوه يا درې کَسان کښيناستل، بيا په مزه مزه خلق ګنړيدل، خلق به د لرې لرې علاقو نه په اَسونو، قَچرو او اوښانو وغيره باندې د بيان اوريدلو د پاره راتلل، هغه وخت به تقريباً د 70 زرو کَسانو اجتماع کيدله (وروستو بيا د دې اجتماع شمير نور هم زيات شوے وو).[1]

❁ د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده حضرت عبدُ الوهاب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه محفل ته به لوئے لوئے عالِمَان او مشائخ



1…بهجة الاسرار، صفحه:177۔

www.dawateislami.net

حاضريدل ❁ په دوئي کښې 400 لوئے لوئے عالِمَان خو هغه وو کومو چې په باقاعده طور په کاغذ، قلم سره د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرامين او ارشادات ليکل[1] ❁ شيخ عمر کيماني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کله هم داسې نه وو شوي چې هغوئي بيان فرمائيلے وي او په محفل کښې چا توبه کړې نه وي. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان به ئې چې واوريدلو نو يو نا يو کَس خو به خامخا توبه کوله او غير مسلمو به کلمه وئيله او مسلمانيدل به[2] ❁ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پخپله فرمائي: زما په لاسونو د 5 زرو نه زياتو غير مسلمو اسلام قبول کړے دے او د يو لاکھ نه زياتو گنهگارانو توبه کړه.[3]

بیاں سُن کے توبہ گنہگار کر لیں | زباں میں وہ دیدو اَثَر غوثِ اعظم!

## غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او کمالِ اخلاص

په بهجةُ الاَسرار شريف کښې دي: د حُضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده شيخ عبدُ الوهاب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عِلمِ دين زده کولو د پاره د لرې لرې علاقو سفر اوکړو، تر ډيرې مودې پورې هغوئي عِلمِ دين زده کولو، کله چې ئې عِلمِ دين زده کړو او بغداد شريف ته واپس راغلے نو يوه ورځ هغوئي د خپل والدِ محترم حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې عرض اوکړو: زه غواړم چې ستاسو په موجودګئ کښې بيان



1…بهجة الاسرار، صفحه:184۔
2…قلائد الجواہر، صفحه:93۔
3…قلائد الجواہر، صفحه:96۔

اوکړم. غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورله اجازت ورکړو، چې کله محفل راجوړ شو، خلق راجمع شول، شيخ عبد الوهاب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: ما بيان شروع کړو، والدِ محترم حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم تشريف فرما وو، ما ډيرې عِلمي نُکتې بيان کړې، په خپل طور مې ډير اعلٰـى خطاب اوکړو خو عجيبه خبره وه، په دومره اعلٰـى علمي خبرو اوريدو هم د چا زړه نرم نه شو، نه د چا د سترګو نه اوښکې رواني شوې.

خير! ما خپل بيان پوره کړو، اوس والدِ محترم حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په منبر باندې تشريف کيښودو، هغوئي بيان شروع کړو، هغوئي صرف دومره اووئيل: كُنْتُ صَائِمًا اَمْسِ پرون ما روژه نيولې وه.

د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې دومره الفاظو کښې داسې د کمال نه ډك اثر وو چې ټول خلق په ژړا شول، عجيبه رُوحاني کيفيت خور شو، زه ډير حيرانه ووم، ما لوئے لوئے تحقيقات وړاندې کړل، په خلقو باندې د هغې هيڅ اثر اونشو، والد صاحب بَس دومره اووئيل چې پرون ما روژه نيولې وه او د محفل رنګ ئې بدل کړو، آخِر په دې کښې راز څه دے؟ فرمائي: والدِ محترم زما حيرانتيا لرې کړه او اوئې فرمائيل: ځويه! تا د خپل طرف نه تقرير کولو، تا خپل مافِي الضمير بيانولو خو زه د خپل ځان نه نه وايم بلکه وَ عِزَّةِ الْعَزِيْزِ مَا تَكَلَّمْتُ حَتّٰى قِيْلَ لِيْ بِحَقِّيْ عَلَيْكَ تَكَلَّمْ يُسْمَعْ مِنْكَ په الله رَبُّ العِزّت مې دې قسم وي! زه په خپله خوښه څه نه وايم تر دې پورې چې ماته وئيلے

شي: اے عبد القادِر! په تا باندې چې زمونږه څه حق دے، د هغه حق په وجه خبرې اوکړه! ستا خبرې به اوريدلے شي.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! څومره ښکلے شان دے د غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ...!! د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په بيان کښې به څومره اِخلاص او څومره لِلّٰهيت وو، يو خوا لوئے لوئے علمي تحقيقات بيانيږي، د کمال علمي نکتے بيانيږي خو خلق نه ژاړي، نه د محفل رنګ بدليږي، حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بس صرف دومره وائي: ما پرون روژه نيولې وه. او د محفل رنګ بدليږي، د خلقو زړونه نرميږي، خلق ژاړي، ولې؟ آخر راز څه دے؟ راز هم دا دے چې غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پخپله هيڅ نه وائي بلکه د الله پاک په حکم باندې عمل کوي، د هغه د رضا د پاره بيان کوي، رَبِّ کريم! د اِلهام په ذريعه هغوئي ته حکم کوي: اے عبد القادر! اووايه...!! بيان اوکړه! ستا بيان به اوريدلے شي. سُبْحٰنَ اللّٰه! هر مسلمان اندازه لګولے شي چې کله د اخلاص نه ډك کمال سره بيان اوکړے شي نو د دې بيان به څومره اثر وي، داسې بيان به د څومره خلقو په زړونو اثر کوي او ژوند به ورله بدلوي.

هم دا وجه ده چې د حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په بيان کښې به کوم خوش قِسمته شرکت کولو، د هغه ژوند به جوړيدلو. چا څه ښکلې وئيلي دي!!

جس کا عمل ہو بے غرض اس کی جزا کچھ اور ہے

323

1 ...طلوعِ غوثِ اعظم، صفحه:294بتغير قليل۔

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د عقيدې مسئله حل شوه

امام ذهبـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليكلي دي: شيخ ابو بكـر عِماد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وخت مبارک يو عالِم وو، هغوئي فرمائي: ما به عِلمِ عقائد لوستلو، يو ځل داسې اوشول چې د يوې اسلامي عقيدې په باره کښې زما په زړه کښې شک شو، (قرآن و حديث يو څه وئيل، عقل څه بل څه وئيل، دماغو كار نه كولو، ډيره پريشاني وه، ما په بے اطمينانئ او د شک په حالت کښې ورځ تيروله) په دغه وخت کښې د حضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مدرسے په خوا تيريدم، ما اوريدلي وو چې غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د زړه په خبرو پوهيږي، زه مدرسے ته لاړم، حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان فرمائيلو، زه ئې چې اوليدم نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل بيان موضوع بدله كړه او هغه مسئله په كومه چې زه نه پوهيدم، د كومې عقيدې په باره کښې چې زه په شک کښې ووم، غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه. د هغې مسئلې حل راكړو او اوئې فرمائيل: اِعْتِقَادُنَا اِعْتِقَادُ السَّلْفِ الصَّالِحِ وَ الصَّحَابَةِ مونږه هم هغه عقيده ساتو كومه چې زمونږه د بزرګانو او صحابۀ كرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان وه (يعني د عقيدو په معامله کښې مونږه د عقل نه كار نه اخلو، بَس څه چې اللّٰه او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي، مونږه په هغې سترګي پټوو، كومه عقيده چې د اَئِمّۀ كرامو وه، د بزرګانِ دين او د صحابۀ

کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان وه، مونږه هم هغه عقيده لرو)

ابوبکـر عماد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: زما ګمان وو چې غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ هسې اتفاقاً دا جمله فرمائيلې ده، هغوئي ته زما د زړه حال معلوم نه دے. غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ بيا زما طرف ته متوجه شو او دا ځل ئې زما طرف ته اوکتل او اوئې فرمائيل: اِعْتِقَادُنَا اِعْتِقَادُ السَّلْفِ الصَّالِحِ وَ الصَّحَابَةِ زمونږه عقيده هم هغه ده کومه چې د بزرګانِ دين او د صحابهٔ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان وه.

ابوبکـر عِماد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي چې: اوس هم زما يقين رانغلو، زما خيال وو چې بيان کوونکے شي او ګس اړخ ته کتل کوي، په دې انداز کښې د هغوئي نظر په ما پريوتو ګنې هغوئي ته زما د زړه د حال څه پته لګي. غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په دريم ځل زما طرف ته متوجه شو او زما نوم ئې واخِستلو او اوئې فرمائيل: يَا اَبَابَكْرٍ اِعْتِقَادُنَا اِعْتِقَادُ السَّلْفِ الصَّالِحِ وَ الصَّحَابَةِ اے ابو بکـر! زمونږه عقيده هم هغه ده کومه چې زمونږه د بزرګانِ دين او د صحابهٔ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان ده.

په دې ځل چې غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ زما نوم واخستلو، د کوم نه چې پته لګيدله چې هغوئي واقعي زما شک لرې کوي، ماته رابنائي، البته غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې سره يو بل دليل راکړو، زما د زړه يوه بله پريشاني ئې ختمه کړه، زما والد صاحب د ډيرو ورځو نه کور ته نه وو راغلے، زړه مې پريشانه وو، بے قراري وه، حضور غوثِ پاک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ زما نوم واخستلو او

اوئي فرمائيل: **قُمْ قَدْ جَاءَ اَبُوْکَ** اے ابوبکر! پاځه...!! (لاړ شه! اوګوره...!!) ستا والد صاحب کور ته راغلے دے.

(لکه چې غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائيل، اے ابو بکر! ته دا ګنړې چې ماته ستا د زړه د حال پته نشته، ماته خو ستا د زړه د حال هم پته ده او ستا د کور د حالاتو نه هم خبر يم) شيخ ابو بکر عماد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا فرمان مې چې واوريدلو نو پاڅيدم او په تادئ کور ته اورسيدم، چې اومې کتل نو واقعي زما والد صاحب کور ته راغلے وو.[1]

جوکوئی تیرہ بخت یہاں ہوگیا ہے حاضر | روشن نصیبہ پا گیا بغداد والے مرشد[2]

**وضاحت:** کوم بدنصيبه چې ستاسو دربار ته حاضِر شو تاسو د هغه بخت رابيدار کړو.

**اے عاشقانِ رَسُول!** تاسو اوکتل! د حُضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيانونه به څومره انقلابي وو، خلقو چې به د هغوئي بيان واوريدلو نو ډير به متاثره کيدل، د هغوئي په زړونو کنبې به د عشقِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډيوې بليدلې، په زړه کنبې به د الله پاک ويره پيدا کيدله، خلقو چې به د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان واوريدلو نو په خپلو ګناهونو باندې به پښيمانه کيدل او توبه به ئې کوله او نيک انسانان به جوړيدل.

راځئ! د حُضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې انقلابي بيانونو نه د عِلم



1...سير اعلام النبلاء، جلد:20، صفحه:442۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:545۔

www.dawateislami.net

او حکمت او د نصيحت د مدني ګلونو اوريدلو سعادت حاصلوو:

## ژوند غنيمت اوګڼړئ...!

په 10 شَوَّالُ الْمُکرم، 545 هجرئ، د اتوار ورځ وه، د سحر په وخت حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خپله مدرسه کښې **د توبے په موضوع** بيان اوفرمائيلو. د دې بيان شروع هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د يو حديثِ پاک نه اوکړه، اوئې فرمائيل: د الله پاک د نبي رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: مَنْ فُتِحَ لَهٗ بَابٌ مِّنْ خَيْرٍ د چا د پاره چې د خير دروازه بيرته کړے شي، فَلْيَنْتَهِزْهُ نو هغه له پکار دي چې په مَنډه هغه دروازې ته ورننوځي فَاِنَّهٗ لَا يَدْرِیْ مَتٰى يُغْلَقُ عَلَيْهِ ځکه چې هغه ته دا پته نشته چې دا دروازه به د هغه د پاره کله بندولے شي.[1]

د دې حديثِ پاک بيانولو نه پس حُضور غوثِ پاك شيخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: اے خلقو...! تادي کوئ...! ترڅو پورې چې د ژوند دروازه برسيره ده، خپلې ساه ګاني غنيمت اوګڼړئ! ډيره زر به دا دروازه بندولے شي. تر څو پورې چې په تاسو کښې طاقت او همت دے، نيک اعمال غنيمت اوګڼړئ! تر څو پورې چې د توبے دروازه بيرته ده، دا غنيمت اوګڼړئ! د دُعا دروازه بيرته ده، دُعا غوښتل غنيمت اوګڼړئ! د نيکانو خلقو په صحبت کښې د ناستې دروازه برسيره ده، دا غنيمت اوګڼړئ!



1...زُهد لابن مبارک، صفحه:76، حديث:117۔

اے خلقو! تاسو چې کوم نقصان کړے دے، هغه پوره کړئ! د (ګناهونو کوم نجاست مو) په لمَن لګيدلے دے، هغه وينځئ! کومې بدئ چې مو کړي دي، هغه ټيک کړئ...! په زړه باندې چې مو د ګناهونو کوم تور والے پورې کړے دے، هغه صفا کړئ! کوم چې تاسو (ناحقه) اخستے دے، هغه واپس کړئ! د خپل مالِک و مولیٰ (يعني د خوږ رَبِّ کريم) د نافرمانئ نه را واپس شئ...! د الله کريم په دروازه باندې حاضِر شئ...! دلته څوک هم نشته، صِرف الله خالِق و مالِک دے، که چرې تاسو د هغه په در حاضِر ئې نو د هغه بندګان ئې، که چرې تاسو د مخلوق په لور متوجه ئې(مثلاً د مال و دولت په ګټلو کښې لګيدلي ئې او په دې وجه د الله پاک په در نه حاضريږئ، الله پاک مو هير کړے وي نو بيا تاسو د الله پاک بندګي نه کوئ بلکه) د مخلوق بندګان جوړ شوي ئې.

اے انسانه! سستي مه کوه...! ځکه چې سستي د هميشه محرومي او د شرميدو سبب دے. خپل اعمال ښه کړه...! الله پاک به په دُنيا او آخِرت کښې په تا باندې انعام اوفرمائي.

حُضور غوثِ پاك شيخ عبد القادر جيلاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ خپل بيان جاري اوساتلو او نور ئې اوفرمائيل: د قيامت په ورځ به انسان په دُنيا کښې کړي خپل ښه او بد اعمال يادوي خو په هغه وخت کښې به پښيمانتيا هيڅ فائده نه ورکوي، فائده خو په دې کښې ده چې د مرګ نه مخکښې قيامت ياد

کړې...! چې کله خلق میوه شوکوي، په هغه ورځ د تُخم وخت یادول هیڅ فائده نه ورکوي. دنیا د آخرت پټے دے، څوک چې دلته د نیکئ تخم اوکري، د قیامت په ورځ به په خوشحالئ خوشحالئ میوه حاصِلوي او څوک چې په دنیا کښې د ګناه تخم اوکري، د قیامت په ورځ به شرمیږي.[1]

غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه نور اوفرمائیل: (خلقو!) کله چې تاسو له مرګ راځي، تاسو به د غفلت د خوب نه رابیداره شئ خو هغه وخت د رابیداریدو هیڅ فائده نشته. اے انسانه! د بدو خلقو صحبت [یعني ناستې] ته د نیکانو خلقو نه بدګمانه کړي ئے. د الله پاک د کتاب او د سُنتِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په رنړا کښې ژوند تیروئ! کامیابي به ستاسو نصیب وي. د الله پاک نه داسې حیا کوئ، لکه څنګه چې د هغه نه د حیا کولو حق دے. په غفلت کښې خپل وخت مه ضائع کوئ...! تاسو د هغه مال په جمع کولو کښې مصروف ئې، کوم چې تاسو نه استعمالوئ، هغه خوبونه وینئ، کومو ته چې به تاسو اونه رسئ، هغه ودانئ [کورونه] جوړوئ په کومو کښې چې تاسو ته (همیشه) اوسیدل نه دي او دې ټولو خبرو تاسو د الله پاک په حُضور کښې د حاضریدو نه غافِله کړي ئې.

غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه د خپل بیان سلسله نوره وړاندې بوتلله او اوئې فرمائیل: په دې کښې هیڅ شک نشته ټول خیر د الله پاک سره دے او بد



1...مسند شهاب، جلد:1، صفحه:232، حدیث:364۔

تول د غَيرُ الله (يعني د الله پاک د دُښمنانو) سره دي. خير په دې کښې دے چې د الله پاک په حُضُور کښې حاضر شئ...! د الله پاک د عِزت د دَر نه لرې تښتيدو کښې صرف بدي ده.

اے خلقو! په تاسو باندې لازم دي چې (1) مرګ يادوئ! (2) په مصيبت باندې صبر کوئ! (3) او په هر حال کښې په الله پاک باندې بروسه ساتئ...! چې کله دا درې واړه صفتونه په تاسو کښې پوره طور پيدا شي نو تاسو له به مرګ په داسې حالت کښې راځي چې د مرګ د يادولو په وجه به تاسو زاهدان جوړ شوې ئې، د صبر په ذريعه به تاسو د الله پاک د بارګاه نه د خپلې خوښې انعام حاصلوئ او د تَوَکُّل په ذريعه به د الله پاک سره ستاسو تعلق مضبوط شي.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږه پير، پير دستګير حُضور غوثِ پاك شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څومره په ښکلي انداز کښې د توبے ترغيب راکړے دے، اوس دا ساکانے رواني دي، آه! پته نه لګي چې کله دا ساه ګاني اودريږي او مونږه د ژوند نه لاس وينځو او د مرګ په لاره د قبر جَوَړې کندې ته کوز شو، اوس موقع ده، ژوند ميلاؤ شوے دے، ساه ګانے رواني دي، راځئ! چې د حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په فرمان باندې عمل



1...الفتح الربانی، المجلس الرابع، صفحه:333231خلاصةً۔

www.dawateislami.net

اوکړو او توبه کړو، تر ننه پورې چې څومره ګناهونه شوي دي، د هغه ټولو نه رښتيني او پخه توبه هم اوکړو، د توبې تقاضې هم پوره کړو يعني که قضا لمُونځونه په ذِمه دي نو ادا ئې کړو، که روژې قضا شوې دي نو اوئې نيسو، که د چا يو حق ورکول دي نو ور ئې کړو، که چرې د چا زړه آزاره شوے وي نو معافي ترې اوغواړو او توبه اوکړو او ښه د نيکو ژوند تيرول شروع کړو.

## د توبې په فضائلو باندې 2 احاديثه

**(1)** د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ يعني د ګناهونو نه توبه کوونکے داسې دے لکه چې هغه چرې هم څه ګناه نه وي کړې.[1] **(2)** په يو حديث مبارک کښې دي: کله چې بنده د خپلو ګناهونو نه توبه اوکړي نو الله پاک د ګناه ليکلو والا فرښتو نه د هغه ګناهونه هيروي، دغه شان د ده د اندامونو (يعني لاسونو او ښپو) نه ئې هم هير کړي او د هغه په زمکه باندې نښې هم ورانوي. تر دې پورې چې د قيامت په ورځ کله هغه د الله پاک سره ميلاويږي نو د الله پاک د طرف نه به د هغه په ګناه باندې يو ګواه هم نه وي.[2]

## د نيکانو بندګانو په شان شئ...!

په 3 شوال المُکرم، 545 هجرئ، د خيالي ورځ وه، حُضُور غوثِ پاک



1…ابن ماجه، کتاب الزہد، باب ذکر التوبة، صفحه:689، حديث:4250۔

2…الترغيب والترہيب، کتاب التوبة والزہد، صفحه:987، حديث:17۔

رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سحر په وخت بيان اوفرمائيلو: په دې بيان مبارک کښې غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يوه ډيره ښکلې خبره ارشاد اوفرمائيله، د سرو زرو په اوبو د ليکلو قابله جمله ده، يقين اوکړئ! که چرې مونږه د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه صرف دا يوه جمله په خپل ژوند کښې نافذه کړو، په دې باندې پوره طور عمل اوکړو نو زمونږه دُنيا به هم ښکلې شي، آخرت به مو هم ښکلے شي.

جمله څه ده؟ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: **اے خلقو! د الله پاک د پاره داسې شئ! لکه څنګه چې بزرګانِ دين وو، الله پاک به په تاسو باندې داسې کرم اوکړي، لکه څنګه چې به ئې ستاسو په بزرګانو باندې کولو.**[1]

سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے مدني ګُل دے....!! نن صبا خلق پريشانه کيږي، په زړه کښې وسوسے راځي، مونږه دعاګانے کوو، پوره کيږي نه، محنت کوو، فائده نه کوي، چې سرو زرو له لاس وروړو نو خاورې شي، آخِر معامله څه ده؟ اَبرَهَه نومې بادشاه که په کعبه شريفه باندې حمله کوي نو الله پاک د وړو وړو مرغو په ذريعه د هغه په هاتيانو سور فوځ له شکست ورکوي، په ميدانِ بدر کښې د مدد د پاره فرښتې راکوزيږي، نن صبا خو هم مسلمانان وهلے کيږي، په مسلمانانو باندې ظلم زياتے کيږي، آخِر نن صبا مدد ولے نه کيږي؟ حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير ساده جواب راکړو، اوئې فرمائيل: هغه د چا چې به غيبي مدد کيدلو، په چا باندې به



1...الفتح الربانى، المجلس الاول، صفحه:15۔

www.dawateislami.net

چې د رَبِّ کائنات رحمتونه ډېر راوریدل، چا چې به خاورو له لاس وروړلو نو سره زر به ترې جوړيدل، تاسو هم خپل اخلاق، خپل کردار، خپل اعمال د هغوئي په شان کړئ، هغوئي به پينځه واړه لمُونځونه د جَمعے سره ادا کول، تاسو ئې هم کوئ! هغوئي به تهجد، اِشراق، ساخت او د اَوَّابينو نوافل په پابندئ سره ادا کول، تاسو ئې هم کوئ! د الله پاک نيکانو بندګانو به د قرآنِ پاک تلاوت کولو، تاسو ئې هم کوئ! هغوئي د الله پاک د رضا طلب ګار وو، تاسو ئې هم طلب کوئ! هغوئي د دُنيا نه، د آخرت طلب ګار وو، تاسو هم د آخِرت فِکر کوونکي جوړ شئ! هغوئي د مال نه، د نيکو حِرص کوونکي وو، تاسو هم د نيکو حِرص کوونکي جوړ شئ! هغوئي به د الله پاک د ويرې نه ژړل، تاسو هم ژاړئ! هغوئي رَبِّ کريم يادوونکي وو، تاسو هم د الله ذِکر کوئ! د هغوئي اخلاق اعلٰـی وو، د هغوئي کردار پاک وو، هغوئي به د خپلو پرَدو غم کولو، هغوئي به په خپل مينځ کښې په شريکه اوسيدل، هغوئي به د نورو د پاره قربانئ ورکولې، نرمو خبرو والا وو، تاسو هم داسې جوړ شئ! بيا اوګورئ، چې څنګه به ستاسو په بزرګانو باندې د رَبِّ کريم رحمتونه ښه ډېر راوريدل، په تاسو باندې به هم د رَبِّ رحمان او رحيم رحمتونه هم هغه شان راوريدل شروع شي.

## د يو صاحِبِ عِلم ډير د حيرانئ جواب

د يو صاحبِ عِلم نه چا پوښتنه اوکړه: په ټوله دُنيا کښې مسلمانان

شاته روان دي، غريبانان په غريبئ کښې ډوبيږي، په مسلمانانو باندې ظلم و زياتے کيږي، آخِر الله پاک چرته دے؟ الله پاک د دوئي مدد ولے نه کوي؟ (مَعَاذَ الله!دا ډيره سخته بے ادبئ والا جملے دي خو دلته خلق داسې جملے وائي، داسې سوالونه کوي) نو هغه صاحبِ علم ډير ښکلے جواب ورکړو، اوئې وئيل: زه يو ګَس پيژنم، د هغه عمر 60 يا 70 کالو ته نزدې دے، نه د هغه اولاد شته، نه د هغه څوک وارث شته، کار مار هيڅ نه کوي، د هغه سره د 2 وخته ډوډئ پيسې هم نه وي، د خلقو په هغه باندې زړه سوزي او هغه له خوراک يا پيسې وغيره ورکوي، داسې کمزورے حالت ئې دے خو افسوس! هغه بالکل بوډا هم دے، غريب هم دے، د ډوډئ پيسې ورسره نه وي، د دې باوجود هغه په پابندئ سره ګيره خروي، په دې عمر کښې هم جُمات ته نه ځي، لمُونځ نه کوي، الله پاک نه يادوي.

اوس اووايه! دلته سوال نه جوړيږي چې الله پاک چرته دے؟ مدد ولے نه کوي؟ سوال دا جوړيږي چې زمونږه په زړه کښې د رَبِّ کريم ياد چرته دے؟ الله پاک خو زمونږه د مرئ د رَګ نه هم زيات مونږ ته نزدې دے، لرې شوي خو مونږه د هغه نه يو. الله پاک فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيْمِۙ﴿۶﴾ (پاره: 30، سورهٔ انفطار: 6)

[مفهوم]ترجَمه کنزُالايمان: اے انسانه تا ته کوم څيز دوکه درکړه د خپل کرم والا رَبّ نه.

اے عاشقانِ رَسُول! دا آيت مبارک بيا بيا لولئ! په دې باندې غور اوکړئ! زمونږه رَبّ خو ډير کريم دے، ډير کرم کوونکے دے، ډير ورکولو والا دے، ډير مهربانه رحم کوونکے دے، آخِر کوم څيز مونږ په دوکه کښې واچولو؟ مونږه په کومه وجه د خپل رَبِّ رحمان نه لرې کيږو؟ مونږه ولے د هغه دروازے ته نه ځو؟ مُؤَذِّن وائي: حَیَّ عَلَی الْفَلَاح ، حَیَّ عَلَی الْفَلَاح راشئ! کاميابئ طرف ته، راشئ! کاميابئ طرف ته.

يہی مسجد، يہی کعبہ، يہی گلزارِ جنّت ہے | چلے آؤ! مسلمانو! يہی تختِ مُحَمَّد ہے

آخِر مونږه د کوم څيز په لټون کښې يو؟ هغه کومه خزانه ده چې مونږه ئې په دُنيا کښې لټوو او هغه د الله پاک سره نه ميلاويږي...؟ دلته د هيڅ څيز کمے نشته، د رَبِّ کريم په حُضُور کښې سر په سجده کيږدئ بيا اوګورئ...!! دلته هر څه ميلاويږي، دُنيا هم ښه کيږي او آخِرت هم ښه کيږي.

## غَل راغے، قبولِيَّت ئې اوموندلو

په الروض الفائق کښې دي: د شپے يو غَل د حضرت رابعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها کور ته راغے، هغه ټول کور اولټولو، د يوې لوټے نه علاوه ئې نور هيڅ اونه موندل، د بيرته تللو اِراده ئې اوکړه، حضرت رابعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها اوفرمائيل: که هوښيار غَل ئې نو د څه ورلو نه بغير به بيرته نه ځے. اوئې وئيل: ما ته خو دلته هيڅ هم ميلاؤ نه شو. اوئې فرمائيل: اے غريبه انسانه! په لوټه باندې اودس اوکړه او کوټے ته لاړ شه دوه رکعته لمونځ اوکړه،اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! څه

نا څه به د دې ځائے نه يوسې. هغه هم داسې اوکړل، دلته حضرت رابعه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهَا دُعا اوکړله: اے کريم مالِکه! دا زما کور ته راغلے دے ده ته هيڅ ميلاؤ نه شو، ما ستا په بارګاه کښې اودرولے دے، دا د فضل او کرم نه مه محرومه کوه. هلته غَل له لمُونځ مزه ورکړه، څکه ئې ټوله شپه لمُونځونه کول، د پيشمنې په وخت حضرت رابعه بصرې رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهَا کوټے ته ورغله، غَل هغه وخت په سجده پروت وو او خپل ځان ته ئې وئيل: زما رَبّ به زما نه پوښتنه کوي چې آيا زما نافرماني دې کوله نو حيا نه درتله؟ د دُنيا والؤ نه دې په پټه ګناه کوله، اوس زما په حُضُور کښې د ګناهونو پيټے په سر راغلے ئې! آه! الله پاک به په ما باندې غضب اوفرمائي، ما به د رحمت نه لرې کړي نو هغه وخت به زه څه جواب ورکووم...؟؟

حضرت رابعه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهَا پوښتنه اوکړه: وروره! شپه څنګه تيره شوه! اوئې وئيل: په خير (تيره شوه)، زه په عاجزئ سره د خپل مالِک و مولا په بارګاه کښې اودريدم، هغه زما کوږ والے نيغ کړو، زما عُذر ئې قبول کړو او زه ئې خپل مقصد ته اورسَوَلم. بيا هغه په حيرانتيا سره لاړو. حضرت رابعه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهَا لاسونه اوچت کړل، د الله پاک په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: اے زما مالِکه! دا يوه شپه ستا په حُضُور کښې حاضر شو، تا هغه قبول کړو، زه د څومره مودے نه ستا په بارګاه کښې ولاړه يم، آيا زه هم قبوله کړے شوې يم؟ آواز راغلے: رابعه! مونږه هم ستا په وجه هغه قبول کړو او ستا په

وجه مو ورله خپل قربت ورکړو.[1]

| | |
|---|---|
| ہر عبادت سے برتر عبادت نماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نماز |
| قلبِ غمگیں کا سامانِ فرحت نماز | ہے مریضوں کو پیغامِ صحّت نماز |
| پیارے آقا کی آنکھوں کی ٹھنڈک ہے یہ | قلبِ شاہِ مدینہ کی راحت نماز |
| بھائیو! گر خدا کی رِضا چاہیے | آپ پڑھتے رہیں باجماعت نماز |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

کاش! د دې نن اجتماعِ پاک نه دا په سرو زرو ليکلے شوي الفاظ، د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا ايمان تازه کوونکي نصيحت مونږه ډالئ اوګنړو او د ځان سره ئې يوسو او د ټول عمر د پاره ئې خپل کړو چې اے خلقو! تاسو د الله پاک د پاره داسې شئ! لکه څنګه چې ستاسو بزرګانِ دين، د الله پاک نيک بندګان وو، رَبِّ کريم به په تاسو باندې داسې کرم اوکړي، لکه څنګه چې ئې په هغوئي باندې کړے وو.

الله پاک دې مونږ له د حُضُور پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مبارکو تعليماتو باندې د عمل کولو توفيق را کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

عمل کا ہو جذبہ عطا یا الٰہی! گُناہوں سے مجھ کو بچا یا الٰہی!
میں پانچوں نَمازیں پڑھوں باجماعت ہو توفیق ایسی عطا یا الٰہی!
دے شوقِ تلاوت دے ذوقِ عبادت رہوں باوُضو میں سدا یا الٰہی![2]



1…الروض الفائق، المجلس التاسع والعشرون: فی بعض مناقب الصالحین، صفحه:159۔
2…وسائل بخشش، صفحه:102 ملتقطاً۔

www.dawateislami.net

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: مدني قافله

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي فيضانِ غوثِ پاک دے، فيضانِ خواجه او رضا بلكه فيضانِ اولياء دے، د اوليائے كرامو د مباركو تعليماتو زده كولو، د هغوئي د نقشِ سيرت نه رنړا حاصلولو او د خپل ژوند ښائسته كولو، د خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په محبت او سُنَّتو باندې د عمل جذبے زياتولو د پاره تاسو هم د دعوتِ اسلامي ديني ماحول لمَن اونيسئ! په 12 ديني كارونو كښې هم ښه پوره حِصّه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دُنيا او آخِرت بيشميره خير به مو نصيب شي. په 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: مدنى قافله هم ده. راځئ! د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## د مديني د سفر سعادت ميلاؤ شو!

د شيخوپوره (پنجاب، پاكستان) د يو اسلامي ورور د ليک خلاصه ده: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ماته د عمرے شريف ادا كولو شَرف ميلاؤ شو، هلته مې د قُصُور (پنجاب، پاكستان) د يو قاري صاحب سره ملاقات اوشو، هغه اووئيل چې ما د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رسول سره د 3 ورځو په مدني قافله كښې د سفر كولو سعادت حاصِل كړو او هلته مې ښه په ژړا ژړا د مديني منورې د

حاضِرئ د پاره دُعا اوكړله.

د دُعا د قبليدو آثار څه په دې طريقه راظاهر شو چې كله د مَدَني قافِلے نه بيرته راغلم او د معمول مطابق چې ماشومانو ته د قرآنِ پاک ښودلو د پاره د چا كور ته لاړم. نو كور والا ډير په مهربانئ سره رامخكښې شو او اوئې وئيل: قاري صاحب! مَاشَآءَ الله! تاسو زما ماشومانو ته د قرآنِ پاک تعليم وركوئ، كه چرې ستاسو څه خواهش وي نو اووائې، اول خو ما د اخوا ديخوا نه كار واخستلو خو د هغه په بيا بيا وئيلو باندې ما اووئيل چې د مدينے د ديدن آرمان مې دے. هغه فوراً ما له خرچه راكړه او داسې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په مدني قافله كښې د دُعا كولو په بركت زما په شان ګنهګار او غريب انسان ته د مدينے منورې د حاضرئ شرف نصيب شو.

مانگو آکر دُعا پاؤ گے مُدّعا
گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نَم
در کرم کے کھلیں قافلے میں چلو
لینے یہ نعمتیں قافِلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ماهنامه فيضانِ مدينه ايپلي كيشن تعارف

اے عاشقانِ رَسُول! د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له طرفه ماهنامه فيضانِ مدينه ايپلي كيشن تعارف كړے شوے دے، په دې ايپلي كيشن كښې دا دوه بهترين آپشنز (***Options***) موجود دي: ✿ د مخكښنينو

ټولو ماهنامه فيضانِ مدينه ***PDF*** ❁ د ټولو ماهنامو مضامين (آرټيکلز) په ليکلي شکل کښې موجود دي، کوم چې د کاپي کولو سره شيئر کيدے هم شي ❁ سرچ آپشن (***Search option***) په کوم کښې چې په ټولو ماهنامو کښې د سرچ کولو سره هر يو څيز لټولے شي ❁ ټول مضامين د موضوعاتو په اعتبار سره ترتيب کړے شوي دي، په خپل سمارټ فون کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ (***Download***) کړئ! ځپله ترې هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ټيلي تهون (عطياتو مهم) ترغيب

اے عاشقانِ رَسُول! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې د نيکئ دعوت عام کولو تحريك دے. د الله پاك په فضل و کرم سره ❁ دعوت اسلامي د 80 نه زياتو شعبو کښې ديني خدمتونه کوي ❁ دعوتِ اسلامي تر اوسه پورې په زرګونو جماتونه، په سوونو فيضانِ مدينه (مدني مرکزونه) جوړ کړي دي ❁ د ماشومانو هلکانو او جينکو د پاره جدا جدا د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره تر نن وخته پورې تقريباً 6121 (شپږ زره يو سل يو ويشت) مدرسة المَدينه جوړې شوي دي، په دې کښې تقريباً 270112 (2 لاك 70 زره 112) ماشومانو هلکانو او جينکو د قرآنِ کريم حفظ و ناظره فِـي سبيلِ الله

تعليم جاري دے ❀ نابينا [ړندو] ماشومانو د پاره هم جدا مدرسةُ المَدينه قائم ده. د شروع نه واخله تر اوسه پورې تقريباً 439940 (4 لاکه، 39 زره 940) په ناظره او حفظِ قرآنِ كريم مكمل كړے دے ❀ د علم دين خورولو (يعني عالم او عالمَه كورس كولو) د پاره جدا جُدا جامعةُ المَدينه قائم دي. تراوسه پورې تقريباً 1309 (يو زر 309) جامعةُ المَدينه (للبنين، للبنات) جوړې شوي دي، په دې كښې تقريباً 117402 (يو لاك، 17 زره، 402) طالب علمان او طالباتو ته د درسِ نظامي (عالم او عالمَه كورس، فيضانِ شريعت كورس) مفت وركړے كيږي. تر اوسه پورې تقريباً 16 زره 117 عالم او عالمَه كورس، فيضانِ شريعت كورس مكمل كړے دے، په لكونو حافظان، قاريان، اِمامان، مُبَلِّغين، مُعَلِّمين، عالمَان او مُفتيانِ كرام تيارولو سره د اِصلاحِ اُمَّت او كردار جوړولو كار جاري دے ❀ د دولسو نه زيات دارُ الاِفتاءِ اَهْلِ سُنَّت قائم دي چرته چې مُفتيانِ كرام د اُمَّت شرعي راهنمائي كولو كښې مصروف دي ❀ په المَدينةُ العلمِيَّه كښې په مختلفو موضوعاتو باندې په سوونو ديني كتابونه چاپ كړے شوي دي ❀ فيضان آن لائن اكيډمي (هلكانو جينكو) قائم دي چې د دې په ذريعه آن لائن عالم كورس، قرآنِ پاك (حفظ و ناظره) ښودلے كيږي، د 30 نه زيات آن لائن كورسونو په ذريعه په 77 ملكونو كښې خلقو ته په كور كښې د علمِ دين رنړا رَسَولے كيږي ❀

د مدني چينل په ذريعه 6 غټو سټيلائټس باندې په اردو، انګلش او بنګله ژبو کښې د دين ښه خدمت کيږي ❀ شعبه **FGRF** په ذريعه د فلاحي و سماجي خدماتو سلسله هم جاري ده.

په 13 نومبر 2022ء د اتوار په ورځ ټيلي تهون (يعني د عطياتو مهم سلسله) کيدونکي ده، تاسو هم د خدمتِ دين په دې کار کښې خپله حِصَّه واچوئ! د خدمتِ دِين ټولو شعبو ټول خرچو د پاره د دعوتِ اسلامي ټرسټ سره تعاون اوکړئ. يو يونټ: **لس زره** [روپۍ] دي. څوك چې يو يُونټ ورکولے شي، هغه دې يو يُونټ ورکړي، څوك چې 12 يونټ ورکولے شي هغه دې 12 ورکړي، څوك چې څومره هَمَّت او توفيق لري ، هغه شان دې اوکړي. بهرحال! په ټيلي تهون کښې حِصَّه ضرور واخلئ! خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: **اِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِىءُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوْءِ** يعني صدقه د الله پاك غضب مړ کوي او ناکاره مرګ لرې کوي.[1]

مُفَسِّر شهير حکيمُ الاُمَّت حضرت مفتي احمد يارخان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح کښې فرمائي: يعني د صدقه کوونکي ژوند هم ښه وي چې اوَّل خو پرې دُنياوي مصيبتونه راځي نه او که د ازمېښت په طور پرې را هم شي نو د الله پاك له طرفه هغه ته د زړه سکون نصيب



1…ترمذی، کتاب الزکاۃ، باب ما جاء فی صدقۃ، صفحہ:189، حدیث:664۔

كيږي.[1] معلومه شوه د الله پاك په لاره كښې خرچ كولو كښې زمونږه فائده ده. كه مونږه د دِين مالي خدمت پريږ دو نو جماتونه به څنګه جوړ شي؟ په لكونو حافظان به څنګه تياريږي؟ په زركونو عُلماء، د 80 نه زياتې شعبے به څنګه كار كوي؟ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي د دِين خدمت كوي، دعوتِ اسلامي د **جماتونو جوړولو تحريك** هم دے، دعوتِ اسلامي د **جماتونو ډكولو تحريك** هم دے او د الله پاك په مهربانئ سره دعوتِ اسلامي د **اِيمان بچ كولو تحريك** هم دے، دعوتِ اسلامي زمونږه نسلونه بچ كوي، كور په كور د نيكئ دعوت رَسَوي او كورونو كښې امن عام كوي. كه مونږه د دعوتِ اسلامي مرسته اوكړو نو **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم!** د دې فائده به مونږ ته او زمونږ نسلونو ته وي! په دې وجه هِمَّت اوكړئ! د زړه د اخلاصه د الله پاك په لاره كښې خرچ كړئ! د دعوتِ اسلامي ملګرتيا اوكړئ! **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم!** د دې بركتونه به درنصيب شي. الله پاك دې مونږ ته د دين د خدمت كولو توفيق رانصيب كړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچّہ بچّہ یااللّٰہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1...مرآۃ المناجیح، جلد:3، صفحه:103 بتغير قليل۔

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره كښې د سُنّت فضيلت او د ژوند يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشَاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوكړو هغه زما سره محبت اوكړو او چا چې زما سره محبت اوكړو هغه به په جنّت كښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رانجو لګولو سُنَّتونه او آداب

**فرمانِ مصطفٰى** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ټولو رانجو كښې بهتر رانجه **اِثمِد** دي ځكه چه دا نظر روښانه كوي او بانړه راخيژوي.[2]

**اے عاشِقانِ رسول!** د كانړي رانجه استعمالولو كښې باك نشته او تور رانجه يا كاجل د زِينت په اِراده د نارينه د پاره لګول مكروه دي او كه زِينت [حاصلول] ئې مقصد نه وي نو كراهت نشته، رانجه د اُوده كيدو وخت كښې استعمالول سُنَّت دي. ❁ د رانجو استعمالولو درې طريقو خُلاصه وړاندې كيږي: **(1)** كله په دواړو ستركو كښې درې درې سلائيان **(2)** كله په ښئ ستركه كښې درې او په ګڅه كښې دوه، **(3)** او كله په



1…مشكوٰة، كتابُ الْاِيمان، بابُ الْاِعْتِصَام، جلد: 1، صفحه: 55، حديث: 175۔
2…ابن ماجه، كتاب الطب، باب الكحل بالاثمد، صفحه: 566، حديث: 3497۔

www.dawateislami.net

دواړو سترګو کښې دوه دوه او بيا په آخره کښې د رانجو ککړ يو سلائي وار په وار دواړو سترګو کښې اولګوئ، په داسې کولو به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! په درې واړو طريقو عمل اوشي.

**اے عاشِقانِ رسول!** د تَکريم به چه ځومره کارونه وو هغه ټول به زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښي طرف نه شروع کول، لِهٰذا اول په ښئ سترګه کښې رانجه اچوئ بيا په ګڅه کښې.[1]

| | |
|---|---|
| عجب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے! | جو نقشِ پا کا لگاؤں غبار آنکھوں میں |

د مختلفو سنتونو زده کولو د پاره د **مکتبةُ المَدينه** **بهارِ شريعت** جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 100 صفحو کتاب **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفےٰ اور خوفِ خُدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| علم حاصل کرو، جَہَل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1…550 سنتیں اور آداب، صفحه:38۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:



1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو: صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے



1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلې نو داسے ئې لوَلې.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرۡضٰی لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اَنۡزِلۡهُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَکَ یَوۡمَ الۡقِیَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهۡلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله



1...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠

3...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ٢٥٤/١٠، حديث:١٧٣٠٥

www.dawateislami.net

نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد



1... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵

www.dawateislami.net